AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۷/۱۶

# مه غواړه

ته به خندا غواړې خو، له ما څخه ئې مه غواړه
زما څخه کې غواړې له سرو اوښکو ډک لېمه غواړه

زه لاس ناوهلی سور لاله یم پر دښتونو شین
بل څه نه لرمه بس یو داغ مې پر دا زړه غواړه

نور دې د دنیا له نعمتونو برخورداره وي
ویر او ماتمونه زما پر کور او پر کهاله غواړه

بل کور ته ور تېر سه، له دې دره تمه وشلوه
ځه ګدا "معصومه" له بل در څخه اوبه غواړه

آشاوا, کانادا
16جولای 2021ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ